AFGHANISTAN CENTER FOR COMMERCIAL DISPUTE RESOLUTION
د افغانستان د سوداګریزو شخړو حل مرکز
مرکز حل منازعات تجارتی افغانستان

# د افغانستان
## د سوداګریزو شخړو حل مرکز د حکمیت قواعد

غويي۱۳۹۹

# د افـغانسـتـان د سوداګريزو شخړو حل مرکز د حـکميت قواعد

## د عناوینو فهرست


لومړۍ ماده : موخه........................................................................................................................ ۱
دویمه ماده : اصطلاحګاني.............................................................................................................. ۱
دریمه ماده : د تطبیق ساحه ............................................................................................................ ۲
څلورمه ماده : د قواعدو تفسیر.......................................................................................................... ۲
پنځمه ماده : د سوداګریزو شخړو حل مرکز رئیس او د مشرتابه کمیټه ..................................................... ۳
شپږمه ماده : تعدیل ..................................................................................................................... ۳
اوومه ماده : خبرتیاوې او مراسلې..................................................................................................... ۳
اتمه ماده : د حکمیت غوښتنلیک ...................................................................................................... ٤
نهمه ماده : دفاعیه او متاقبله ادعا .................................................................................................... ٤
لسمه ماده : په حکمیت کې د دریم اړخ پیوستون.................................................................................. ٥
یوولسمه ماده : څوارخیزه شخړه........................................................................................................ ٦
دولسمه ماده : د حکمیت د قضایاوو توحید ......................................................................................... ٦
دیارلسم ماده : د حکمیت بورډ جوړښت ............................................................................................ ٦
څوارلسمه ماده : د حکمیت بورډ لخوا د اهل خبره او کارپوهانو ګمارل .................................................... ۸
پنځلسمه ماده : د حکمیت بورډ واکونه .............................................................................................. ۸
شپاړسمه ماده: د حکمیت بورډ بې طرفي ، خپلواکي او د حکمیت بورډ ته لاسرسی ..................................... ۹
اوولسمه ماده : په حکم اعتراض او دهغې ردول .................................................................................. ۱۰
اتلسمه ماده : د حکمیت حقوقي ځاي................................................................................................. ۱۱
نوولسمه ماده : حاکم قانون ............................................................................................................ ۱۱
شلمه ماده : د حکمیت په پروسه کې د ژبې ټاکنه ................................................................................ ۱۱
یوویشتمه ماده: د اداري سکرتر ټاکنه................................................................................................ ۱۲
دوویشتمه ماده: حکمیت ته درسیدو دول............................................................................................ ۱۲
درویشتمه ماده: د اړخونو سره یو رنګ سلوک کول ............................................................................ ۱۳
څلورویشتمه ماده: د حکمیت بیړنی او لږ ارزښت سره څېړنه ................................................................ ۱۳
پنځه ویشتمه ماده: شواهد او اثباتیه مدارک....................................................................................... ۱۳
شپږویشتمه ماده : لنډ مهاله تدابیر ................................................................................................ ۱٤
اووه ویشتمه ماده: دغوندېو دایرولو طریقه......................................................................................... ۱٤
اته ویشتمه ماده: د حکمیت قرار ..................................................................................................... ۱٥
نهه ویشتمه ماده: د حکمیت د قرار اصلاح او تفسیر ........................................................................... ۱٦
دیرشمه ماده: د حکمیت لګښتونه..................................................................................................... ۱٦
یودیرشتمه ماده : مصؤنیت............................................................................................................. ۱۷
دوه دیرشتمه ماده: محرمیت............................................................................................................ ۱۸
درې دیرشتمه ماده: د حکمیت د څېړنې پای ........................................................................................ ۱۸
ضمیمه ۱: د سوداګریزو شخړو حل مرکز اداري خدمات لګښتونه ........................................................ ۱۹
ضمیمه ۲: د سوداګریزو شخړو حل مرکز د حکمیت لګښتونه/فیس......................................................... ۲۰
د افغانستان دسوداګریزو شخړو حل مرکز د حکمیت د وړاندیز وړ ماده.................................................. ۲۱

## لومړۍ ماده : موخه

دا قواعد د حکمیتحکمیت هغه قضایاؤ د اداره او تنظیمولو لپاره وضع شوې چې د افغانستان د سوداګریزو شخړو حل حل مرکز سره ثبت او یا هم دغه مرکز کې د حل لپاره راجع شوی وي.

## دویمه ماده : اصطلاحګانې

ددې قواعد په موخه لاندې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

١. ACDR: د افغانستان د سوداګریزو شخړو حلد حل مرکز او یا په انګلیسي ژبه کې Afghanistan Center for Commercial Dispute Resolutionمفهوم افاده کوي ، په دې کړنلاره کې د سوداګریزو شخړو حلد حل مرکز (د مرکز) په نوم یادیږي.
٢. د سوداګریزو شخړو حلحل مرکز د مشرتابه کمیته: د سوداګریزو شخړو حلحل مرکز د مشرتابه کمیته د سوداګریزو شخړو حلحل مرکز تصمیم(پریکړه) نیوونکې ډلګې ته ویل کیږي.
٣. د حکمیتحکمیت بورډ: د یو یا دریو حکمان هغه ډله ده چې د دې قواعدو په رڼا کې د سوداګریزو شخړو د حلحل اوفصل لپاره ټاکل شوې وي.
٤. د حکمیتحکمیت موافقه لیک: د اړخونوترمنځ لیکل شوی موافقه لیک او یا د قرارداد یوه ماده چې د هغې پر بنسټ اړخونه خپلې سوداګریزې شخړې د حلحل او فصل لپاره حکمیتحکمیت ته لیږدوي چې د سوداګریزو شخړو حلد حل مرکز لخوا اداره کیږي.
٥. د حکمیتحکمیت قرار: د لنډمهاله ، جزوی ، یا وروستی پریکړه، او یا هغه پریکړه چې د اړخونو په رضایت صادره شوي وي ، څخه عبارت ده.
٦. لنډمهاله پریکړه: هغه پریکړه چې د حکمیتحکمیت بورډ یې د لنډمهاله تدابیرو په لړ کې د یو مسئلې په هکله د وروستی پریکړی د اصدار څخه مخکې صادره وي.
٧. یوبرخه(جزوی) قرار : هغه پریکړه چې د حکمیت بورډ حکمیتحکمیت بورډیې د اړخونو د ادعا یو جز نه د ټولو ادعا یا د مقابلې ادعا په هکله صادره وي.
٨. وروستۍ قرار : وروستۍ قرار هغه قرار ده چې د حکمیت بورډ حکمیتحکمیت بورډیې د اړخونو د ټولو او یا پاتې ادعاوو په هکله د مسئلې ضرورت سره سم صادره وي .
٩. د اړخونو د رضایت پر بنسټ قرار : د اړخونو د رضایت پر بنسټ قرار هغه قرار ده چې د اړخونو د رضایت پر بنسټ (متنازع فیه) مسئله کې د اړخونو د لیکل شوې غوښتنې په اساسد حکمیت بورډ صادره وي حل.
١٠.ادعا: هر هغه دعوا چې یو اړخ یې دبل اړخ په مقابل کې وکړي.
١١. مدعی: هغه اړخ یا اړخونه دي چې حکمیتحکمیت شروع کوي.
١٢.شخړه: شخړه هغه مشاجره ده چې دوه یا د دوو څخه ډیرو اړخونه تر مینځ د حقوقی اړیکو له کبله رامینځته کیږي.
١٣.ورځ: په هیواد کې د سوداګرۍ رسمي ورځ، چې خبرتیاوې او مراسلات د قواعدو په رڼا کې جوړوي او لیږدول کیږي.

١٤. مدعی علیه : مدعی علیه هغه اړخ یا اړخونه دي چې د هغه په مقابل کې حکمیتحکمیت شروع شوی وي.
١٥.د سوابقو ثبتونکي: د سوداګریزو شخړو د حل مرکز د سوابقوثبتونکی دفتر.
١٦.اړخونه: د مدعی او مدعی علیه څخه عبارت دي.
١٧. قواعد: د سوداګریزو شخړو حلحل مرکز د د حکمیت قواعد څخه عبارت ده.
١٨.ثبوت: د شاهد ،معتبرو اسنادو او د مسئلي په هکله د ماهرو کسانو (اهل خبره) راپور څخه عبارت دی.

## دریمه ماده : د تطبیق ساحه

١. د حکمیتحکمیت دغه قواعد په هغه قضایاؤ پلي کیږي چې د حکمیتحکمیت موافقه لیک یې دهمدغه قواعدو د تطبیق په هکله وړاندوینه کړې وي او یا د حکمیتحکمیت په موافقه لیک کې دې قواعدو ته ورته اغیز لرونکې ټکي کارول شوي وي . د افغانستان د سوداګریزو شخړو حلحل مرکز ته د حکمیتحکمیت لپاره غوښتنلیک وړاندې کولو سره سم به دا وپیژندل شي چې د شخړې دواړه خواوې د سوداګریزو شخړو حلحل مرکز لخوا چمتو شوي قواعد، د حکمیتحکمیت موافقه لیک برخه ګڼي او ددې په پلي کولو توافق لري .

٢. دا قواعد د (١٢جوزا ١٣٩٩) څخه نافذ ګڼل کیږي او د حکمیتحکمیت په ټولو هغه قضایاؤ چې پدې نیټه او یا د دې څخه وروسته پیل شي پلي کیږي.
٣. د دې قواعدو هغه نسخه چې حکمیتحکمیت ته د غوښتنلیک وړاندې کولو پر مهال نافذه وه باید حکمیتحکمیت ته د رسیدلو په پروسه کې پلي شي پرته لدې چې دواړو خواو کوم بل ډول توافق کړی وي.
٤. د سوداګریزو شخړو حلحل مرکز یوازینی واکداره اداره ده چې د دې قواعد سره سم د حکمیتحکمیت ادره او په هکله یې د پریکړې کولو واک لري.

## څلورمه ماده : د قواعدو تفسیر

١. د سوداګریزو شخړو حلحل مرکز واک لري چې د شخړې د یوې او یا دواړو خواو په غوښتنه د دې کړنلارې د قواعدو تفسیر وکړي.
٢. د دې قواعدو پر بنسټ جوړ شوی د حکمیت حکمیت بورډ د قواعد هغو مادو د تفسیر واک لري کوم چې د دوی د واکونو او دندو په محدوده کې شامل دي.
٣. د دې قواعدو پر بنسټ جوړ شوي د حکمیت بورډحکمیت لخوا د دې قواعدود تفیسر باید د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا بررسي او تایید شي .
٤. د سوداګریزو شخړو حل مرکز د دې قواعدو پر بنسټ نیول شویو پریکړو لپاره د دلیل په وړاندې کولو مکلف نه دی، پرته لدې چې د ځانګړیو حالاتو اړوند د قواعدو وړاندوینه کړې وي او یا د دواړو خواوو لخو په ګډه د دلایلو وړاندې کولو غوښتنه شوې وي.
٥. په دې قواعدو کې مفردې کلمې د جمع او برعکس معنا ورکوي.

## پنځمه ماده : د سوداګریزو شخړو حل مرکز رئیس او د مشرتابه کمیټه

۱. د سوداګریزو شخړو حل مرکز رئیس کولای شي چې د سوداګریزو شخړو حل مرکز په استازیتوب د اړتیا او یا د موضوع د بیړنیتوب په وخت یو اړخیزه تصمیم ونیسي په دې شرط چې دا ډول پریکړې د سوداګریزو شخړو حل مرکز د مشرتابه کمیټې لخوا په راتلونکې غونډه کې تصویب شي.
۲. د سوداګریزو شخړو حل مرکز د مشرتابه کمیټه د سوداګریزو شخړو د حل مرکز د قضایاؤ تنظیم ټیم څخه څارنه او مشري کوي . د قضایاؤ تنظیم ټیم د هغه مدیرانو څخه جوړ دی کوم چې د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته سپارل شوې د قضایا اداره کوي او پر مخ یې بیایي.
۳. د سوداګریزو شخړو حل مرکز د رئیس او مشرتابه کمیټې اړوند دندې او مسؤلیتونه به د دې مرکز په اساسنامه کې تنظمیږي.

## شپږمه ماده : تعدیل

۱. د دې مادې (۲) فقرې ته په پام سره ، د شخړې اړوند دواړه اړخونه د حکمیتحکمیت د پیل د مخه یا وروسته د پیل څخه کولای شي چې په لیکلي توګه ددې قواعدو تعدیل په اړه توافق وکړي. د پیل څخه وروسته د قواعد هر ډول تعدیل باید د حکمیت بورډ او د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا تائید شي.
۲. د دې قواعد د ۳، ۴، ۵، ۸، ۹، ۱۶، ۱۷، ۳۰ مواد د اړخونو لخوا تعدیل یا حذف کیدی نه شي .

## اوومه ماده : خبرتیاوې او مراسلې

۱. دواړه اړخونه یا د دوی مدافع وکیلان باید د اسنادو او مراسلو سپارل یوازې په بریښنایي توګه تر سره کړي غیر له دې چې د اسنادو په چاپي توګه سپارښتنه اړینه وګڼل شي. د حکمیت د غوښتنلیک فورمه د دې حُکم څخه مستثنا ده،متباقی اسناد چې په چاپي توګه چمتو کیږی مستقیماً د شخړې خواوو او دحکمیت بورډ ته کله چې دا بورډ را منځته شي ورکول کیږي ، او یوه بریښنایي نسخه یې باید د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته واستول شي.
۲. د سوداګریزو شخړو حل مرکز څخه خبرتیاوې او مراسلی د (بریښنالیک ، پُست او یا د بلې کومې ممکنه لارې چې د سپارلو مخینه ولري ترسره کیږي، د سوداګریزو شخړو حل مرکز به د حکمیت غوښتنلیک یوه کاپي د پُست د لارې او نورې ټولې اړیکې د بریښنالیک له لارې تر سره کوي، چیرې چې بریښنالیک شتون ونلري او یا هم لاسرسی ورته ممکن نه وي د سوداګریزو شخړو حل مرکز اړیکې او خبرتیاوې د پُست وړونکي لخوا تر سره کیږي، بې له دې چې د شخړې خواوو او د حکمیت بورډ لخوا بل ډول غوښتنه وشي.
۳. خبرتیاوې او **مراسلې** هغه ورځ تر لاسه شوې ګڼل کیږي چې مرسل الیه (چا ته چې لیږل شوې وي) پخپله او یا د هغه د استازي لخوا تر لاسه شي، او یا هغه وخت تر لاسه شوې ګڼل کیږي چې ددې مادې دویمې فقرې سره سم تر سره شوې وي .

٤. ددې قواعدو اړوند ټاکل شوی وخت د خبرتیا او یا د مراسلې (لیږدونې) ترلاسه کولو د نیټې څخه پیل کیږي .

## اتمه ماده : د حکمیت غوښتنلیک

١. مدعی به خپل د حکمیت غوښتنلیک د دې مادې دویمې فقرې سره سم د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته سپاري. د دې قواعدو او د حکمیت قرار د صدور له پاره د حکمیت پیلیدو نیټه هغه نیټه ګڼل کیږي چې مدعی علیه د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته سپارل شوی د حکمیت غوښتنلیک ترلاسه کړي.

٢. د حکمیت غوښتنلیک باید د لاندې معلوماتو لرونکی وي:

١) ۶۵۰۰ افغانی د حکمیت غوښتنلیک د اداري ثبت لګښت (د ثبت لګښت)
٢) د نوم، اړیکې او بشپړ تفصیلي توضیحاتو سربیره د شخړې د خواوو بریښنالیک ، تیلیفون شمیرې او د خواوو لخوا ټاکل شوی حکمان (چې حکمان ټاکل شوی وي ).
٣) د شخړې هغه اساساتو په هکله بشپړ او پوره لنډیز چې ادعا یې شوې ده، هغه دلایلو یادول چې پر بنسټ یې ادعا شوې وي .
٤) د ادعا اړوند ادعا کونکي غوښتنې سربیره د ادعا پولي ارزښت، که کره پولي ارزښت یې نه وی معلوم د احتمالي ارزښت روښانه کول.
٥) د ټولو اسنادو پوره او د منلو وړ کاپي، د اړتیا په وخت کې داسنادو په شمول د حکمیت موافقه لیک (یا موافقه لیک) ، د حاکم قانون په پښتو یا دري ژباړل ( چیرته چې د پلي کیدو وړ وي).
٦) کله چې ادعا د یوڅخه ډیرو اسنادو پر بنسټ شوې وي د ادعا لپاره د حکمیت موافقه لیک او یا سند تایید او ځانګړي کول.
٧) د حکمیت بورډ د جوړښت اړوند هر ډول نظر، که چیرته د حکمیت موافقه لیک ( یا موافقه لیکونه) د دریو حکمانو لپاره اټکل کړی وي، مدعی له لوري د حکم نومول او د نومول شوي حکم د اړیکې بشپړ توضیحات.
٨) مدعی د لوري د پلي کیدو وړ (قانون، ژبې او د حکمیت ځای) په اړه وړاندیزونه په داسې حال کې چې د ډاډ وړ اسنادو ذکر شوي موارد نه وي ښکاره کړي.

٣. د سوداګریزو شخړو حل مرکز د حکمیت غوښتنلیک او ټول اړوند اسناد مدعی علیه یا د مدعی علیه لخوا ټاکل شوي استازي ته استوي، په دې شرط چې مدعی د دې مادې دویمې فقرې اټکل شوې غوښتنې بشپړ کړې وي .

## نهمه ماده : دفاعیه او متاقبله ادعا

١. مدعی علیه د حکمیت غوښتنلیک د تر لاسه کولو څخه وروسته د ٣٠ ورځو په اوږدو کې باید خپل ځواب یا (متاقبله ادعا ) ددې مادې سره سم د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته وړاندې کړي.

۲. مدعی علیه د کره او مناسبو دلایلو په شتون کې د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته ځواب سپارلو لپاره تر نورو ۳۰ ورځو پورې د وخت غځېدو غوښتنه کولای شي . دا ډول تمدید به هغه وخت د منلو وړ وي چې ځواب ورکونکي د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا په اټکل شوي وخت کې ټول هغه ټاکل شوي شرطونه ( لکه د حکموشمیر یا د حکممعرفي کول) تر سره کړي وي. د ځواب ورکونکي لخوا د (۳۰) ورځو څخه زیات وخت لیکل شوی غوښتنلیک باید د ټولو خواوو په اتفاق سره ترسره شي .

۳. د سوداګریزو شخړو حل مرکز باید د مدعی علیه ځواب بغیر دکوم ځنډ څخه مدعی ته واستوي.

٤. د ځواب لپاره ورکړل شوي وخت کې ځواب نه وړاندې کول باید:

۱) د حکمیت چارې ونه ځنډوي، او کوم ځواب چې د مدعی علیه لخوا د ورکړل شوې مودې وروسته وړاندې کیږي باید د حکمیت بورډ ته واستول شي.
۲) د حکمیت بورډ په صلاحیتونو باندې د مدعي علیه د نیوکې حق د لمنځه تللو سبب و نګرځي، په داسې حالاتو کې به د حکمیت بورډ د خپل واک قضیه د حکمیت د قضایاو په څیر څیړي، د حکمیت بورډ څیړنه محکمه کې د حکمیت په هوکړه باندې د خواوو د نیوکې حق لمنځه نه وړي.
۳) د شخړې په هکله د مدعی علیه د دریځ په توګه ونه ګڼل شي.

٥. متقابله ادعا باید د مدعی علیه له ځواب سره یوځای وسپارل شي، د ځواب سره سم د متقابلې ادعا نه سپارل او یا په جلا ډول سپارل یې د حکمیت بورډ هوکړې پورې تړاو لري.

٦. که چیرته مدعی علیه ځواب سره یو ځای متقابله ادعا وړاندې کړې وي، مدعی علیه دمتقابلو ادعاؤ ترلاسه کولو وروسته د ځواب ویلو لپاره ۳۰ ورځې وخت لري چې متقابلو ادعاؤ ته ځواب وړاندې کړي مګر دا چې د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا ورته وخت تمدید کړل شي.

## لسمه ماده : په حکمیت کې د دریم اړخ پیوستون

۱. که چیرته یو اړخ د اړخونو وغواړي چې دریم اړخ د حکمیت پروسې سره یو ځای شي، باید دریم اړخ لپاره دحکمیت غوښتنلیک ( د پیوستون غوښتینلیک) د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته وسپاري.

۲. د دریم اړخ یوځای کیدو غوښتنلیک باید ټول هغه توضیحات چې د اتمې مادې دویمه فقره کې ذکر شوي دي، ولري.

۳. د سوداګریزو شخړو حل مرکز چې په کومه نیټه د دریم اړخ یوځای کیدو غوښتنلیک ترلاسه کړي، همدغه د دریم اړخ پر وړاندې د حکمیت د پیل نیټه حسابیږي.

٤. د دريم اړخ يوځای کيدل ددې قواعدو داتمي اونهمې مادې تابع دي او د دې قواعدو احکام د اړين بدلون سره سم په دريم اړخ پلي کيږي.

٥. حکميت کې د دريم اړخ يوځای کيدل د حکميت بورډ د جوړښت څخه وروسته نشي کيدلی مګر په هغه صورت که چې حکميت اړخونه او د حکميت بورډ د دريم اړخ په يو ځای کيدو سره هوکړه وکړي . د سوداګريزو شخړو حل مرکز دا واک لري چې د دريم اړخ يوځای کيدو غوښتنليک د حکميت بورډ د جوړښت نه مخکې رد کړي.

## يوولسمه ماده : څواړخيزه شخړه

د حکميت بورډ د خواوو غوښتنليک په پام کې نيولو سره بشپړ واک لري چې څو اړخيزه شخړې ته د حکميت له لارې د رسيدو کړنلاره غوره کړي، د کړنلارې په ټاکلو سره د حکميت بورډ بايد تر هغه ځايه چې امکان لري د شفافيت او انصاف اصل په پام کې وساتي .

## دولسمه ماده : د حکميت د قضاياوو توحيد

١. د سوداګريزو شخړو حل مرکز د دې مادې (٢) فقرې په پام کې نيولو سره کولای شي چې دوه يا د دوو څخه ډيرې قضيې او د حکميت پروسې د حکميت په يوه پروسه کې د لاندی شرايطو په پام کې نيولو سره سره يوځای کړي:

١) ټولې خواوې د حکميت پروسو په يووالي يا توحيد سره هوکړه ولري، يا
٢) دحکميت وړ ټولې ادعاوې د واحد حکميت موافقه ليک لاندې راغلي وي، يا
٣) په هغه مواردو کې چې د حکميت وړ څو ادعاوې د ډيرو موافقه ليکونو لاندې تر سره شوي وي او دا موافقه ليکونه دشخړې ورته خواوو تر مينځ لاسليک شوي وي ، ورته حقوقي اړيکې ولري او دحکميت ياد شوي موافقه ليکونه يوبل سره مناسب وي.

٢. د سوداګريزو شخړو حل مرکز نشي کولای هغه قضايا چې مختلف حکمان او د حکميت بورډ ورته ټاکل او يا تاييد شوي وي سره يوځای کړي.

٣. که چيرته د سوداګريزو شخړو حل مرکز پريکړه کوي چې د حکميت ډيرې قضايا سره يو ځای کړي ، قضايا به د هغې قضيې سره يو ځای کيږي چې اول پيل شوې وي.

## ديارلسم ماده : د حکميت بورډ جوړښت

١. د شخړې خواوې کولای شی د حکمانو شمير وټاکی.

۲. که چیرته اړخونه د حکمانو په شمیر باندې هوکړه ونکړي د سوداګریزو شخړو حل مرکز د لومړنۍ هڅې په توګه د حکمانو شمیر ټاکي، پداسې حالت کې باید درې حکمان شتون ولري په استثنا د دې چې د شخړي (حالات، بڼه، پیچلتیا او دشخړې د موضوع ارزښت) د دې غوښتونکي وي چې یو (واحد) حکم ته وسپارل شي .

۳. که چیرته د سوداګریزو شخړو حل مرکز درې حکمان وټاکي اویا خواوو د دریو حکمانو په ګمارنه هوکړه کړې وي خو د ګمارلو په کړنلاره سره هوکړه ونلري نو مدعی ته به وخت ورکړل شي چې مدعی علیه ته دحکمیت غوښتنلیک د رسیدو له نیټې څخه وروسته د ۳۰ ورځو په اوږدو کې یو حکم د تائیدۍ لپاره د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته ونوموي. ورسته لدې به مدعی علیه څخه وغوښتل شي چې د غوښتنلیک د تر لاسه کولو له نیټې څخه وروسته د ۳۰ ورزو په اوږدو کې یو حکم د تائیدۍ لپاره د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته ونوموي.

٤. که چیرته د سوداګریزو شخړو حل مرکز د لومړنۍ هڅې په توګه یو (واحد) حکم وګماري د شخړې خواوي کولای شي چې د ځواب ورکوونکي لخوا د حکمیت غوښتنلیک ترلاسه کولو د نیټې څخه وروسته د ۳۰ ورځو په اوږدو کې په یو (واحد) حکم توافق وکړي او دتائیدۍ لپاره یې د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته ونوموي. .

۵. که چیرته یو د خواوو څخه د دې مادې (۲) او (۳) فقرې د غوښتنې پر بنسټ حکمان معرفي نکړي د افغانستان د سوداګریزو شخړو حل مرکز د لومړنۍ هڅې په توګه د حکمانو د ګمارلو واک لري .

٦. که چیرته خواوو د یو واحد حکم په ګمارنې هوکړه کړې وي، خواووې کولای شي د مدعی علیه لخوا د غوښتنلیک تر لاسه کولو له نیټې څخه وروسته د ۳۰ ورزو په اوږدو کې حکم وګماري .

۷. دوه ټاکل شوي حکمان په شریکه د دویم حکم د تایید له نیټې څخه وروسته د ۳۰ ورزو په اوږدو کې باید دریم حکم وګماري، دریم حکم د حکمیت بورډ د مشرۍ مسؤلیت په غاړه لري.

۸. ، د سوداګریزو شخړو حل مرکز د لومړنۍ هڅې په توګه د قضیې اړوند حالاتو په پام کې نیولوسره د شخړې په عادلانه او چټک ډول حل لپاره د لاندې کارونو سرته رسولو واک لري:
۱) دیارلسمه ماده کې ټاکل شوي وخت ته بدلون ورکول.
۲) که چیرته دواړه خواوې د حکمیت بورډ په هکله توافق ته و نه رسیږي په مکمل ډول سره د حکمیت بورډ ټاکل.

۹. هغه پریکړې چې د دیارلسمې مادې پر اساس د سوداګریزو شخړو حل مرکز د خواوو د حکمیت موافقه لیک پر بنسټ نیول شوې وي د ننګونې او بیا کتنې د غوښتنې تابع نه دي.

۱۰. په (دیارلسمه) ماده کې د (خوا ) اصطلاح د دې قواعدو (لسمې) مادې پر اساس هر هغه دریمې اړخ ته شاملیږي چې د حکمیت سره یوځای شوې وي، او د (اړخ) اصطلاح په ټوله کې بیا یو یا ډیرو مدعیانو او یو یا ډیرو مدعی علیه ته شاملیږي چیرته چې ډیر اړخونه شتون ولري.

۱۱.د سوداګریزو شخړو حل مرکز باید داسې حکم و نه ټاکي چې د شخړې خواوو یا یوې خوا سره ورته تابعیت ولري ، په استثناء د دې چې ټولې خواوې د ورته تابعیت لرونکې وي، یا دا چې د خواوو لخوا بل ډول هوکړه شوې وي.

## څوارلسمه ماده : د حکمیت بورډ لخوا د اهل خبره او کارپوهانو ګمارل

۱. حکمیت بورډ کولای شي د خواوو سره د مشوره وروسته لاندې کارونه سرته ورسوي، په دې شرط چې خواوو کوم بل ډول هوکړه نه وې کړې:
۱) د یو یا ډیرو کارپوهانو ګمارل ترڅو د حکمیت ئاړوند موضوعګانو په هکله خپل راپور وړاندې کړي.
۲) اړخونه دې ته ژمن کول ترڅو اړوند معلومات او اسناد کارپوه ته وړاندی، مالونه او نوره شتمني دپلټنی او کتنې لپاره کارپوهانو ته وسپاري.

۲. کوم کارپوه چې د څوارلسمې مادې له مخې ټاکل شوی وي باید خپل راپور په لیکلې توګه د حکمیت بورډ ته وړاندی کړي .

۳. د حکمیت بورډ لخوا د راپور ترلاسه کولو سره سم باید د حکمیتحکمیت بورډ د راپور یوه کاپې ټولو خواوو سره شریکه کړي، خواووې دا حق لري چې د راپور اړوند خپل نظرونه د حکمیت بورډ ته په لیکلې توګه وړاندې کړي.

٤. د اړخونو څخه د یوه دغوښتنې او یا د حکمیت بورډ د لازم ګڼلو په اساس کارپوه باید حکمیت بورډ ته د راپور تر وړاندې کولو وروسته استماعیه غونډه کې برخه واخلي ترڅو اړخونه پکې د کارپوه لخوا وړاندې کړل شوی راپور وڅیړي.

۵. د کارپوهانو ګمارنې ته اړوند لګښتونو ورکړه باید د حکمیت بورډ لخوا و ټاکل شي.

## پنځلسمه ماده : د حکمیت بورډ واکونه

۱. د حکمیتحکمیت بورډ کولای شي چې د خپل واک سربیره د حکمیت موافقه لیک شتون، د تطبیق ساحه او د د حکمیت موافقه لیک د اعتبار اړوند پریکړه وکړي . ددې هدف لپاره د خواوو تړون اړوند د حکمیت مادې د تړون له نورو مادو څخه د خپلواک تړون په توګه ګڼل کیږي . د حکمیت بورډ لخوا د ټول تړون لغو او باطلیدل د حکمیت اړوند شرط نشی لغو کولای.

۲. د خپل واک اړوند د حکمیت بورډ پریکړه باید د یوې برخې یا نهایي پریکړې په توګه (څنګه چې قضیه غوښتنه کوي) ثبت شي.
۳. د حکمیت بورډ باید په محکمه کې د خپل واک اړونده پریکړې پر بنسټ و نه ننګول شي، پرته لدې چې په کورني یا نړیوال قانون کې بل ډول غوښتنه شوې وي.
٤. خواووې باید کوشش وکړي چې د حکمیت د پروسې بشپړه رونټیا خوندي کړی ، او د حکمیت بورډ لخوا ټولو صادرو شویو پریکړو ته د منلو سربیره درناوی وکړي، د دې فقری حکمونه اړخونو ته د حکمیت د واک نیوکې هغه حق چې د همدې مادې په دریمه فقره کې ځانګړی شوی د مینځه نه وړي.
٥. د حکمیت پروسه باید د یو اړخ د نه شتون سربیره په هر مرحله کی پر مخ لاړه شی.

## شپاړسمه ماده: د حکمیت بورډ بې طرفي ، خپلواکي او د حکمیت بورډ ته لاسرسی

۱. د حکمیت بورډ غړي باید د حکمیت په اوږدو کې د خواوو او یا د خواوو مدافع وکیلانو څخه بیطرف او خپلواکوی، د بیطرفی او خپلواکي مسولیت د پروسې په اوږدو کې لازم ګڼل کیږي.
۲. د تائید او ګمارنې وروسته هیڅ حکم د خواوو او یا د خواوو وکیلانو سره نه شي کولای چې یو اړخیزه اړیکې ولري.
۳. هر حکم د تائید یا ټاکلو د مخه هغه بیانیه چې پکې د شخړې حل او فصل لپاره خپله خپلواکي ، بې طرفي او د حکم په توګه د حکمیت په پروسه ګډون بیانوي لاسلیک کړي، دا بیانیه باید د لاندي موادو لرونکې وي:
۱) د ټولو هغو حقایقو او حالاتو ښکاره کول چې د یو مناسب شخص او یا د خواوو له نظره دهغه/ هغې خپلواکي، او د حکمیت په پروسه کې د حکم په خپلواکی او بې طرفی پورې اړه ولري.
۲) د ټولو هغو ژمنو او مشغولیتونو کره او احتمالي نیتې پیژندل چې پر بنسټ یې حکم د یو کال په اوږدو کې ونتوانیږي چې د حکمیت په پروسه کې ګډون وکړي.
۳) د ټولو هغو وظایفو او کړنو بیانول چې حکم د معاوضې په بدل کې سرته رسولي اجرایوي یا غیر اجرایوی اړیکی چې ممکن د خواوو یا د دوی د وکیلانو یا شریکانو پورې تړاو ولري.

٤. هرحکم باید د تائید او ګمارنې وروسته ټول هغه حقایق او حالات چې د شپاړسمې مادې (۳) فقرې اول بند کې ورته اشاره شوې ده په لیکي ډول د سوداګریزو شخړو حل مرکز سره شریک کړي.

٥. که چیرته یو د خواوو څخه د حکم په تائید او ګمارنه نیوکه ولري د سوداګریزو شخړو حل مرکز باید پدې اړه پریکړه وکړي، دا پریکړه به وروستی او دنیوکې وړ نه وي. د سوداګریزو شخړو حل مرکز خواوو ته مکلف نه دی چې د خپلو پریکړو نیولو اړوند دلایل وړاندې کړي، په استثناء د دې چې د خواوو لخوا په ګډه او لیکلي ډول د سوداګریزو شخړو حل مرکز نه د داسې پریکړو څخه د مخه د دلایلو غوښتنه شوې وي.

٦. د دې قواعدو له مخې د حکم په توګه د دندې په منلو سره به هر حکم دا لوړه/تعهد کوي چې خپلې دندې به د دې مادې د احکامو سره سم پرمخ وړي.

## اوولسمه ماده : په حکم اعتراض او دهغې ردول

١. یو د خواوو د مناسبو او معقول حقایقو او حالاتو په شتون کې چې د حکم د خپلواکئ او بې بطرفی په اړه شک راپورته کولای شي، کولای شي چې د لاندې شرایطو په رڼا کې خپله ننګونه یا اعتراض د حکم په اړه د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته وسپاري:
١) کله چې یو د خواوو د حقایقو او حالاتو څخه خبرشي ننګونه یا اعتراض باید د ١٥ ورځو په اوږدو کې وړاندې کړي.
٢) باید ننګونه یا اعتراض په لیکلي ډول وي.
٣) د نیوکې یا اعتراض یوه کاپي د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته او یوه کاپي خواوو ته واستوي.
٤) د هغې اساساتو بیانیه ولري چې پر بنسټ یې ننګونه یا اعتراض رامینځته شوې وي.

٢. د ننګوني ډلې یا طرف چې د دحقایقو او حالاتو څخه خبرې شې د اوولسمې مادې اول فقره احکامو سره سم د نیتې د ثابتولو مسؤلیت لري.

٣. د ننګوني یا اعتراض په رارسیدو سره سم د سوداګریزو شخړو حل مرکز باید د ننګوني یا اعتراض اړوند حکم، خواووي او نورو حکمانو ته د قضیې د حالاتو په رڼا کې خبر ورکوي اوهغوی ته به پوره وخت چمتو کوي ترڅو د ننګوني یا اعتراض اړوند خپل نظر وړاندې کړي.

٤. حکمیت بورډ مکلف دی چې دننګول یا اعتراض شوي حکم اړوند ننګوني یا اعتراض په هکله پریکړه وکړي، غیر لدې چې اړخونه دننګول یا اعتراض شوي حکم اړوند د رد موافقه وکړي اویا حکم خپله استعفاء وړاندې کړي. د ننګوي اړوند د حکمیت بورډ پریکړه د سوداګریزو شخړو حل مرکز د ځیرنې تابع ګرځي، خواوو او نور غیر ننګول شویو منځګړو ته د حکمیت بورډ د پریکړې خبرتیا باید د سوداګریزو شخړو حل مرکز له لارې وشي.

٥. د شخړو حل مرکز د لاندې دلایلو په شتون کې واک لري چې یوحکم رد کړي او یا د یو حکم پر ځای بل حکم وګماري؛
١) بریالی ننګونه یا اعتراض
٢) د حکم مړینه
٣) د حکم استعفاء
٤) د خواوو موافقه

٦. که چیرته یو حکم د اوولسمې مادې ( ۵ ) فقره کې یاد شویو دلایلو پر بنسټ وویستل شي او یا يې پر ځايې بل حکم وګمارل شي، د سوداګریزو شخړو حل مرکز واک لري چې د یو حکم پر ځای د بل حکم ګمارنې اړوند، ( د قضیې حالاتو سره سم ) خپله پریکړه وکړي.

٧. که چیرته یو حکم د بل حکم پر ځای وګمارل شي، دحکمیت پروسه باید د هغه ځای څخه پیل او پر مخ یووړل شي چیرته چې د ننګونې اړوند حکم د لرې کولو او یا يې پر ځای د بل حکم د ګمارلو پر وخت پریښول شوې وه، پرته لدې چې د حکمیت بورډ بل ډول پریکړه وکړي.

## اتلسمه ماده : د حکمیت حقوقي ځاي

١. خواووې کولای شي چې د حکمیت بورډد جوړیدو څخه د مخه هر وخت د حکمیت د ځای په هکله په لیکل شوی ډول هوکړه وکړي .
٢. خواوې کولای شي چې د حکمیت بورډ د جوړیدو څخه وروسته په لیکلي ډول د حکمیت ځای ټاکلو په هکله هوکړې ته ورسیږي پدې شرط چې د حکمیت بورډورسره مخکې لیکلې هوکړه کړې وي.
٣. که چیرته خواوې د حکمیت پر حقوقی ځای سره هوکړه ونکړي، حکمیت بورډ دقضیې ټولو حالاتو په پام کې نیولوسره د حکمیت حقوقي ځای ټاکي .

## نوولسمه ماده : حاکم قانون

خواوې کولای شي چې دحاکم قانون اویا د حکمیت په پروسې د پلي کیدو وړ قانون اړوند هوکړه وکړي. که چیرته خواوې د حاکم قانون اړوند هوکړه کې پاتې راتلل د حکمیت بورډ به د پلي کیدو وړ قانون ټاکي. د حاکم قانون ټاکلو اړوند پریکړې پر وخت د حکمیت بورډ باید هغه حاکم قانون وټاکی چی د د شخړې ماهیت سره نږدې اړیکه ولري.

## شلمه ماده : د حکمیت په پروسه کې د ژبې ټاکنه

١. خواوې کولای شي د حکمیت په څیرنه کې د ګټې اخستنې په وړ ژبې باندې موافقه وکړي.

٢. که چیرته خواوې د حکمیت په ژبه هوکړه ونه کړي، د حکمیت ژبه به دري یا پښتو وي . د حکمیتحکمیت بورډ بشپړ واک لري چې د دې دوو ژبو څخه یوه غوره کړي .

٣. د حکمیت بورډ د ژبې غوروالي په وخت کې مکلف دی چې د خواوو آسانتیاوې په پام کې ونیسي.

٤. که چیرته یوه یا ډیرې خواوې ، یا تائید شوی حکم د افغانستان وګړي نه وي، د حکمیت ژبه به انګلیسي وي غیر لدې چې خواوې بل ډول هوکړه وکړي.

## یوویشتمه ماده: د اداري سکرتر ټاکنه

١. که چیرته د حکمیت بورډ اداري سکرتر وټاکي، د هغه حق الزحمه باید په مستقیمه توګه د حکمیت بورډ لخوا ورکړل شي.

٢. د سوداګریزو شخړو حل مرکز به د اداري سکرترانو نوملړ د حکمیت بورډ ته چمتو کوي او حکمیت بورډ به د همدغه نوملړ څخه اداري سکرتر ټاکي.

٣. اداري سکرتران د دې قواعدو شپاړسمې مادې په عملي کولو باندې مکلف دي.

## دوویشتمه ماده: حکمیت ته درسیدو ډول

١. د حکمیت بورډ به ټولو خواوو سره په مشوره د حکمیت شکلی موضوعات او د حکمیت اجراتو د مهال ویش په تړاو استماعیه غونډه په حضوري بڼه، دټیلیفون او یا د تصویري کنفرانس له لارې دایروي.

٢. د حکمیت بورډل به د حکمیت استماعیه غونډو لپاره فزیکی ځای د خواوو په مشوره ټاکي.

٣. د حکمیت بورډ مکلف دی چې خواوو سره په مشوره د دندو لایحې په نوم سند د حکمیت بورډ د جوړښت څخه وروسته د یوې میاشتې په اوږدو کې جوړکړي، غیر لدې چې خواوې د داسې سند په نه جوړښت هوکړه وکړي. د دندو لایحه باید د حکمیتحکمیت بورډ او خواوې امضاء او د لاندینو معلوماتو لرونکي وي:

١) د اړخونو نومونه او د اړیکو بشپړ جزئیات.

٢) د سوداګریزو شخړو حل مرکز د حکمیت د قضایاوو مدیریتي ډلي داړیکو بشپړجزئیات.

٣) د شخړې په تړاو د شکلي اجراتو د معلوماتو پشمول د حکمیت د بورډ ټاکلو نیټه او ډول او هغه نیټه چي اړخونو پکي د حکمیت مهم اسناد لاسته راوړي.

٤) د اړخونو لخوا د شخړي لنډیز او غوښتنې سربیره د شخړې پولي ارزښت په هغه صورت کې چي څرګند وي.

٥) د حکمیت هغه تړون/موافه لیک ( یا تړونونو/موافقه لیکونه) ته چې د حکمیت استناد پرې شوی وي په بشپړ توګه ارجاع او ټول هغه نور جزئیات چې حکمیت پورې اړوند وي لکه د حکمیت ژبه، حقوقي ځای او په حکمیت باندې د تطبیق وړ قوانین.

٤. هرکله چي یو د اړخونو د وظایفو لایحې د لاسلیک څخه ډډه وکړي د تائید لپاره به د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته لیږدول کیږي، د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا د تائید وروسته دا لایحه د اجراء وړ ګڼل کیږي او د انکارکونکي د امضاء بڼه غوره کوي.

٥. د سوداګریزو شخړو حل مرکز به د حکمیت بورډ تر جوړښت د مخه اړخونه دې ته اړ کوي ترڅو د استازو اړوند هغه اسناد چې حکمیت ته د رسیدو په پروسه کې د استازو واکونه جوتوي، وړاندې کړي.

٦. د حکمیت بورډ تر جوړښت وروسته به د حکمیت بورډ اړخونه اړ کوي ترڅو د استازو اړوند هغه اسناد چې حکمیت ته د رسیدو په پروسه کې د استازو واکونه جوتوي، وړاندې کړي.
٧. هر یو د اړخونو کولای شي چې د دندو لایحې تر امضاء د مخه نوې ادعا وکړي، د لایحې تر امضاء وروسته دنوې ادعا منل د حکمیت بورډ واک دی.
٨. په هغه صورتونو کې چې حکمیت ته د رسیدو اړوند د دندو لایحه وجود ونلري او یا هم نه وي جوړه شوې د اړخونو لخوا د نوې ادعاوو منل د حکمیت بورډ واک دی، پدې هکله به د حکمیت بورډ پریکړه په لیکلي ډول نیول کیږي او بیا اعلانیږي.
٩. هر کله چې یو د اړخونو حکمیت ته د رسیدو په پروسه کې نوی وکیل ټاکي باید د یاد وکیل بشپړ هویت په بیړنی توګه دحکمیت بورډ ته په لیکلي ډول وړاندې کړي، دوکیل بشپړ هویت نه وړاندې کولو په صورت کې د حکمیت بورډ پخپل واک د نوي وکیل څخه واک اخیستلای شي.
١٠. د حکمیت بورډ اړ دی چې د اړخونو د لیکل شوي توافق په صورت کې د شخړې پر بنه (ماهیت) د انصاف اصل تطبیق کړي.

## دروېشتمه ماده: د اړخونو سره یو رنګ سلوک کول

د حکمیت بورډ باید په بیړنی توګه او کم لګښت سره حکمیت ته د رسیدو په پام کی نیولو سره د حکمیت په ټولو مراحلو کې اړخونو سره عادلانه او یو رنګ چلند وکړي.

## څلورویشتمه ماده: د حکمیت بیړنی او لږ ارزښت سره څیړنه

١. د حکمیت بورډ باید زیار او هڅه وکړي چې حکمیت په بیړه او کم لګښت سره سرته ورسیږي.
٢. د سوداګریزو شخړو حل مرکز هغه وخت چې د حکمیت بورډ و نشي کولای تر څو حکمیت ته په بیړه او کم لګښت سره ورسیږي جرمانه کوي او دا جریمه به په آخر کې د حکمانو فیس څخه وضع کیږي.

## پنځه ویشتمه ماده: شواهد او اثباتیه مدارک

١. د حکمیت بورډ به د اړخونو هر لورې ته د ادعا او دفاعیې وړاند کولو لپاره مناسب وخت ورکوي.
٢. دحکمیتحکمیت بورډ واک لري چې حکمیت ته د رسیدو په اوږدو کې د عادلانه کړنو غوښتنو او د قضیې حالاتو په پام کې نیولو سره د اثباتیه مدارکو، شواهدو ، او دشاهد د شفاهي او کتبي شهادت وړاندې کولو ته اجازه ورکړي.
٣. دحکیمت بورډ واک لري چې د اثباتیه مدارکو اوشواهدو د قبلولو، اړیکه لرل ،اهمیت او قوت تشخیص کړي، مګر دا چې خواوو بل ډول توافق کړی وي.
٤. د حکمیت بورډ کولای شي چې د غونډو تدویر تر مخه هر یو د اړخونو اړ کړي تر څو په لیکلی ټول دشهودو هویت او دشهادت محتوا چې د شهادت ورکړې لپاره استماعیه غونډه کې حاضریږي وړاندې کړي.

٥. د د یو اړخونو دغوښتنلیک پر بنسټ یا د حکمیت بورډ د خپلې پریکړې پر بنسټ کولای شي هغه شاهد چې مقابل اړخ یې په لیکل شوي شهادت استناد کوي استماعیه غونډې ته د حکمیت بورډ په مقابل د شفاهي سوال او جواب لپاره را وغواړي. که شاهد د کوم کره دلیل پرته استماعیه غونډې ته حاضر نه شي، د حکمیت بورډ کولای شي چې د هغه نه حاضریدو له امله غوښتونکې پایله راوباسي، او دشرایطو او قضیې د حالاتو په پام کې نیولو سره د شاهد لخوا وړاندې شوي اثباتیه مدارک په ټوله او یا جزوي توګه رد کړي.

## شپږویشتمه ماده : لنډ مهاله تدابیر

١. د حکمیت بورډ واک لري چې د اړخونو یو لوري دغوښتنې پربنسټ لنډمهاله تدابیر ونیسي، دا تدابیر دلنډمهاله یا جزوي/قسمي قرارپه بڼه صادریدلای شي، حکمیتبورډ د لنډمهاله تدابیر لاندیني موارد دی خو دې موادو ته محدود نه پاتې کیږي:
١) د حکمیت بورډ په هغه حالت کې چې یو اړخ د اړخونو څخه تړون (تړونونه) نقض کړي، او یا دتړون نقض امکان وي، کولاي شي د دعوا د نه وړاندې کولو قرار صادرکړي. د داسې قرار صادرول د حکمیت پروسې په اوږدو کې د حکمیت بورډ واک د نیوکې د وجې تر تأثیر لاندې نشي راوستلای.
٢) په هغه صورتونو کې چې مناسب وګڼل شي، دغوښتنلیک وړاندې کونکي اړخ لخوا د کره دلایلو او بیړې په شتون کې د یو اړخ څخه په بل اړخ د شخړې مصارفو لپاره د تضمین ورکړې پریکړه وکړي.
٣) په هغه حالاتو کې چې مناسب وګڼل شي، د اموالو، شتمنیو، او یو د اړخونو لخوا په امانتي حساب کې د پیسو ایښودلو لنډمهاله قرار صادرکړي.
٤) قرار د شتمنیو او د حکمیت اړوند اسناد د حفظ په موخه.
٢. اړخونه هوکړه کوي چې حکمیت ته د رسیدو په ټولو حالاتو کې په حسن نیت عمل کوي او حکمیت ته د رسیدو په پروسه کې به د همدغې شخړې په هکله هیڅ محکمه کې ادعا نکوي.

## اووه ویشتمه ماده: دغونډو دایرولو طریقه

١. اړخونه حق لري چې حکمیت ته د رسیدو پروسې په اوږدو کې په ګډه د حکمیت بورډ څخه د استماعیه غونډې د را منځته کولو او یا نه را منځته کولو غوښتنه وکړي.
٢. استماعیه غونډې په تصویرې، تیلیفوني او حضورې ډول، (او یا د دې دریواړو د ترکیب څخه) را منځته کیدلای شي.
٣. د حکمیت بورډحل واک لري چې د اړخونو توافق په نشتون کې د استماعیه غونډې رامنځته کیدو او نه رامنځته کیدو، بڼې او ځای په هکله او یا دا چې قضیې ته یواځې د اسنادو په بنسټ رسیدګي وشي، پریکړه وکړي.
٤. ټولې استماعیه غونډې به په سري(پټه) توګه ترسره کیږي مګر دا چې اړخونه په لیکلې توګه بل ډول موافقه وکړي.

۵. د حکمیت بورډ باید خواو ته د استماعیه غونډې د ترسره کولو په اړه مناسب لیکلي خبرتیا ورکړي.

## اته ویشتمه ماده: د حکمیت قرار

١. د حکمیت بورډ کولای شي په مختلفو حالاتو کې د مختلفو موضوعاتو په هکله د حقوقي لګښتونو پشمول جلا جلا قرارونه صادرکړي. دحکمیت داسي قرارونه لکه د نور قرارونو پشان چې د حکمیت بورډ لخوا صادریږي په عین وخت کې نهائي، د اجرأ او اعتبار وړ دي.
٢. قرار به د حکمیت بورډ لخوا په لیکلي توګه صادریږي. د هغې دلایلو یادونه چې قرار د هغې په بنسټ صادر شوی اړین بلل کیږي، مګر دا چې اړخونو د دلایلو په نه یادونه توافق کړی وي. د حکمیت په قرار کې به د ځای او صادریدلو نیټې یادونه کیږي.
٣. د حکمیت قرار باید د حکمیت بورډ د زیاتو غړو لخوا لاسلیک شي، تر څو نوموړی قرار د اعتبار وړ وګرځي.
٤. که چیرته یو حکم د قرار اړوند مخالف نظر ولري، داسي نظر او د داسي نظر لنډیز باید په قرار کې ولیکل شي.
٥. که چیرته د یو څخه زیاتو حکمان یوه موضوع تر څیړنې لاندې نیولې وي او د حکمیت بورډ د یوې موضوع په هکله د واحد نظر پریکړې ته و نرسیږي پریکړه به په زیاتو رایوو سره نیول کیږي که په زیاتو رایوو سره هم پریکړه کیدونکې نه وي نو د بورډ مشر به پریکړه کوي.
٦. په هغه حالاتو کې چې یو حکم د شخړې موضوع څیړنه کوي یاد شوی حکم او یا هم هغه حالاتو کې چې دیو څخه ډیر حکمان ولري، د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته د حکمیت قرار د سپارلو او وړاندې کولو مسؤلیت د پلاوي د مشر په غاړه وي، د سوداګریزو شخړو حل مرکز د دې مرکز د ثبت دفتر تر تائید وروسته اړخونو ته د قرار په هکله خبر ورکوي او یوه نسخه به د اړخونو په واک کې ورکوي په داسې حال کې چې اړخونو د حکمیت اړوند ټول لګښتونه د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته سپارلي وي، ټولې دغه لیږدونې به د بریښنالیک په وسیله او یوه چاپي نسخه چې د اړخونو لخوا یې غوښتنه شوې وي ترسره کیږي.
٧. د شخړې هر اړخ ته به د قرار یوه نسخه ورکول کیږي او یوه نسخه به د سوداګریزو شخړو حل مرکز کې ساتل کیږي.
٨. د حکمیت ټولې پریکړې وروستنۍ او د اجرا وړ دي. د اړخونو د حکمیت توافق د دې قواعدو پر بنسټ صادرې شوې قرار کې د استیناف غوښتنې، بیا ځل کتنې، محکمې یا بل حقوقی ارګان ته د اعتراض پخاطر د خپل حق څخه تیرریږی په داسې حال کې چې د غه تیریدنه د اعتبار وړ وي.
٩. کله چې اړخونه پخپل منځ کې د شخړې د حل او فصل په هکله هوکړې ته ورسیږي، د اړخونو د لیکل شوي غوښتنلیک پر بنسټ د حکمیت بورډ کولای شي همدغه هوکړه د قرار په توګه ثبت کړي. ( د اړخونو هوکړې پر بنسټ قرار)

## نهه ویشتمه ماده: د حکمیت د قرار اصلاح او تفسیر

١. هر یو د اړخونو کولای شي چې د حکمیت قرار تر لاسه کولو وروسته د ٣٠ ورځو په اوږدو کې د سوداګریزو شخړو حل مرکز او د شخړې اړخونو ته دلیکل شوې خبرتیا په لیږدولوسره د حکمیت بورډ څخه غوښتنه وکړي ترڅو حسابي تیروتنې، املائي او یا خپرنیزې ګونګ تیاوې(ابهامونه) او یا نورې ورته تیروتنې اصلاح کړی.
٢. هرکله چې د حکمیت بورډ ذکر شوی غوښتنلیک کره وګڼي، د حکمیت بورډ اړ دی چې د اړخونو په مشوره دهغې نیټې څخه وروسته چې د سوداګریزو شخړو حل مرکز غوښتنلیک یې ترلاسه کړی د ٣٠ ورځو په اوږدو کې تیروتنې اصلاح کړی، د حکمیت په قرار کې هر نوعه اصلاح دیوې یادونې په توګه ځای مومي.
٣. د حکمیت بورډ کولای شي چې د حکمیت قرلر څخه وروسته د ٣٠ ورځو په اوږدو کې د اړخونو سره په مشوره د دې مادې په اوله فقره کې یادې شوې تیروتنې (حسابي تیروتنې، املائي او یا خپرنیزې ګونګتیاوې( ابهامونه) او یا نورې ورته تیروتنې) پخپل ابتکار د یوې یادونې په توګه اصلاح کړی.

## دیرشمه ماده: د حکمیت لګښتونه

١. د حکمیت لګښتونه د حکمیت بورډ لګښتونه او فیس او د سوداګریزو شخړو حل مرکز خدماتي یا اداري لګښتونه ( د حکمیت قضیې ثبتولو لګښت پشمول) دی.
٢. د حکمیت لګښتونو کچه د شخړې بنې او پیچلتیا ته په کتلو د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا ټاکل کیږي. کله چې د شخړې پولي اندازه معلومه نوي نو د داسې شخړو د حکمیت لګښتونه به هغه وخت کره کیږي چې اړخونه د شخړې پولي اندازي اړوند معلومات اوخپلې لیکل شوې کتنې د کره والي اسنادو سره سم وړاندې کړي.
٣. د حکمیت لګښتونه (د حکمیت قضیې د ثبتولو لګښت پرته) باید په مساوي ډول د اړخونو لخوا ورکړل شي. د سوداګریزو شخړو حل مرکز د غوښتنلیک پر بنسټ اړخونه اړ دي چې د حکمیت لګښتونه د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته د مخکې ادایني په توګه وسپاري.
٤. د حکمیت غوښتنلیک تر رارسیدو وروسته د سوداګریزو شخړو حل مرکز کولای شي چې د مدعي نه غوښتنه وکړي چې د دندو لایحې تر جوړښت پوري هغه اندازه پولي مقدار چې د حکمیت لګښتونو یو بخش په پار د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا ټاکل شوی دی د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته وسپاري.
٥. هر کله چې اړخونه د دندو لایحې تر جوړښت ډډه وکړي، د حکمیت لګښتونه په هغه اندازه ټاکل کیږي ترڅو د حکمیت څخه تر هغې زماني پورې چې دقضیې باندې د تطبیق وړ شکلي قواعد تعیین او حکمیت بورډ د اړخونو سره مهال ویش معلوم کړي د حکمیت اړوند لګښتونه پوره کړي.
٦. د دې قواعدو اړوند د حکمیت لګښتونه په ١ او ٢ ضمیمه کې تعیین شوي دي.
٧. هغه پولي مقدار چې د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا ددی ٣٠ مادې پر بنسټ تعیین شوی حکمیت ته د رسیدو په دوران کې د بدلون وړ دی. په ټولو مواردو او حالاتو کې، که یو اړخ د

مخکې اداینې پولي مقدار د ورکړې توان و نلري بل اړخ په ازاد ډول سره کولای شي چې د هغه برخه هم ورکړي.

٨. هر کله چې یو د اړخونو د مخکې اداینې د ورکړې څخه ډډه وکړي د سوداګریزو شخړو حل مرکز کولای شي چې د حکمیت بورډ سره په مشوره حکمیت ته درسیدو پروسې د ودریدو غوښتنه وکړي او یو مشخص وخت تعیین کړي چې د ١٥ ورځو څخه کم نه وي، د دې مشخصو ورځو په تیردو سره داسې ګڼل کیږي چې د اړوند ادعا څخه یې انصراف شوی دی.

٩. هر کله چې یو د اړخونو ونتوانیږي تر څو خپل اړوند د حکمیت لګښتونه ورکړي، کولای شي چې د پریکړې لپاره د سوداګریزو شخړو حل مرکز ته د انصرا ف اړوند خپله ادعا په پورته ذکر شوې موده کې وړاندې کړي، دغه نیوکه د ١٥ ورځو ځنډ سبب ګرځي او د د سوداګریزو شخړو حل مرکز د نیوکې په تړاو پریکړې وروسته ادامه ورکول کیږی.

١٠.ددی دیرشمی مادي پر بنسټ د ادعا څخه انصراف په راتلونکي کې د همدغې اداعا بیا وړاندی کول او یا د حکمیت له لاري د بیا کتنې مانع نه ګرځی..

١١.د انصراف شوی ادعا یا قضیه د ثبت لګښت بیرته نه ورکول کیږي.

١٢.د حکمانو لخوا د حکمیت اړوند معقول او مناسب لګښتونه د اسنادو او رسیدونو په وړاندي کولو سره د حکمیت بورډلخوا ورکول کیږي، د اسنادو او رسیدونو نه وړاندې کول د یاد شوی لګښتونو د نه ورکړې سبب ګرځي.

١٣.د حکمیت اړوند لګښتونه په هره مرحله کې حکمیت ته د رسیدو پروسې څخه د حکمیت اخرني قرار تر صادرولو پوري د سوداګریزو شخړو حل مرکز لخوا د بیا کتنی وړ دي.

١٤.د حکمیت بورډ کولای شي چې د یو اړخ له لوري د بل اړخ ټولو یا بعضې حقوقي او نورو لګښتونو د ورکړي په هکله قرار صادر کړي.

١٥.د حکمیت بورډ کولای شي چې د حقوقي لګښتونو د پولي اندازې په اړه څنګه چې مناسب وګڼي او معقول وي پریکړه وکړي. د حکمیت بورډ د داسې پریکړي کولو پر وخت باید د قضیې حالات، نتیجه، او حکمیت ته درسیدو په پروسه کې د اړخونو چلند، حکمیت ته درسیدو په پروسه کې د اسانتیاو رامنځته کولو په پار هر نوعه مرسته، او یا د اړخونو لخوا غیر مناسب برخورد چې حکمیت ته درسیدو پروسه ځنډ ګرځیدلی وی په نظر کې نیولو سره پریکړه وکړي، د داسې پریکړې په هکله کره دلایل به د حکمیت اړوند قرار کې د لګښتونو په تعینولو سره ذکر کیږي.

## یودیرشتمه ماده : مصؤنیت

د قوانینو د احکامو په پام کې نیولوسره، د سوداګریزو شخړو حل مرکز او یا د حکمیت بورډ هیڅ یو غړی، او هیڅ یو متخصص چې د حکمیت بورډ لخوا او یا هم د اړخونو لخوا ټاکل شوي وي اړخونو ته دحکمیت اړوند اجراتو اونه اجراتو مسؤل نه ګڼل کیږي، په استثناء د هغه حالاتو چې اجرات او نه اجراات د دوی قصدي تخلف له وجې شوي وي. هغه اړخ چې د دې تخلف د شتون ادعا کوي د ادعا د اثبات مسؤلیت لري.

## دوه دیرشتمه ماده: محرمیت

۱. اړخونه ژمنه کوي چې د حکمیت ټولو قرارونو سربیره دحکمیت ټول مواد او مطالب او ټول هغه اسناد چې د حکمیت دوران کې د مقابل لوري لخوا وړاندې شوي وي محرم وساتي، مګر داچې ذکر کړل شوي اسناد د عامو خلکو لاسرسی ته رسیدلي وي او مشروط په هغه حالاتو او مواردو پورې چې د دې معلوماتو خپرول یو د اړخونو لخوا د قانوني حق حفظ او تعقیب لپاره د حکمیت قرار د انفاذ او په هغې باندې د نیوکې په پار اړین وګڼل شي.

۲. د حکمیت بورډ غړو تر منځ بحث محرم ګڼل کیږي مګر دا چې د دې معلوماتو خپرول د تطبیق وړ قانون پر بنسټ اړین وي، او یا د یو حکم د حکمیت ته د رد په صورت کې د دې معلوماتو خپرول د حکمیت بورډ د نورو غړیو لخوا اړین وګڼل شي.

**۳.** د سوداګریزو شخړو حل مرکز نشي کولای چې د حکمیت قرار او یا د قرار اړوند یوه برخه د اړخونو او د حکمیت بورډ د مخکني لیکل شوي رضایت پرته خپور کړي.

## دری دیرشتمه ماده: د حکمیت د ځیرنې پای

۱. حکمیت ته د رسیدو پروسه د حکمیت اخرني قرار په صادریدو او یا د حکمیت بورډ د دستور پر بنسټ د دې مادې ۲ فقرې په اساس پای مومي.

۲. د حکمیت بورډ کولای شي چې حکمیت ته درسیدو پروسې پای په لاندې مواردو کې صادر کړي:

۱) په هغه صورت کې چې مدعي د خپلې دعوا څخه وګرځي، مګر دا چې مدعي علیه په مدعي باندې متقابله ادعا ولري او یا داچې مدعي علیه د مدعي په کرځیدنه باندې نیوکه وکړي او د حکمیت بورډ د مدعي علیه قانوني ګټې د شخړې په اخرني حل کې پیدا کړي.

۲) په هغه صورت کې چې اړخونه د حکمیت پروسې پای ته رسیدو باندې هوکړه وکړي.

۳) په هغه صورت کې چې د حکمیت بورډ پوه شي چې د حکمیت پروسې دوام د بل هر دلیل پر بنسټ بې ضرورته یا نا ممکن دی.

## ضمیمه ۱: د سوداګریزو شخړو حل مرکز اداري خدمات لګښتونه

**د قضيي د ثبت لګښت: ٦٥٠٠افغانۍ (دغه لګښت د مدعی څخه اخيستل کيږي او د بيرته اداينې يا ورکړې وړ نه دی)**

| شمیره | د اړخونو د مدعی بها اندازه | د مرکز اداري لګښت |
|---|---|---|
| ۱ | شخړه د ۱ نه تر ۲۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ۱۰,۰۰۰افغانۍ |
| ۲ | شخړه د ۲۰۰,۰۰۱ نه تر ۵۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٥,٥٪ |
| ۳ | شخړه د ۵۰۰,۰۰۱ نه تر ۱,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٢,٥٪ |
| ۴ | شخړه د۱,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۲,۵۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ١,٥٪ |
| ۵ | شخړه د ۲,۵۰۰,۰۰۱ نه تر ۵,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ١٪ |
| ۶ | شخړه د ۵,۰۰۰,۰۰۱ نه تر۱۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٠,٨٪ |
| ۷ | شخړه د ۱۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر۳۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٠,٦٪ |
| ۸ | شخړه د ۳۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۵۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٠,٥٪ |
| ۹ | شخړه د ۵۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۷۵,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٠,٤٪ |
| ۱۰ | شخړه د ۷۵,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۱۰۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٠,٣٪ |
| ۱۱ | شخړه د ۱۰۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۵۰۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٠,٢٪ |
| ۱۲ | شخړه د ۵۰۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۱,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانيو پوري | ٠,١١٪ |
| ۱۳ | شخړه د ۱,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰افغانيو نه پورته | ٠,٠٧٪ |

## ضمیمه ۲: د سوداګریزو شخړو حل مرکز د حکمیت لګښتونه/فیس

| شمیره | د اړخونو د مدعی بها اندازه | حکم | ۳ حکمان |
|---|---|---|---|
| ۱ | د ۱ نه تر ۲۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۱۰,۰۰۰ افغانۍ | ۱۸,۰۰۰افغانۍ |
| ۲ | د ۲۰۰,۰۰۱ نه تر ۵۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۳,۸٪ | ٦٪ |
| ۳ | د ۵۰۰,۰۰۱ نه تر ۱,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۳٪ | ٥,٥٪ |
| ۴ | د۱,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۲,۵۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۲,٥٪ | ٤,٤٪ |
| ۵ | د ۲,۵۰۰,۰۰۱ نه تر ۵,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۲٪ | ۳,۸۰٪ |
| ۶ | د ۵,۰۰۰,۰۰۱ نه تر۱۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۱,٥٪ | ۳٪ |
| ۷ | د ۱۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر۳۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۱٪ | ۱,٤۰٪ |
| ۸ | د ۳۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۵۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۰,۸٪ | ۱,۱۰٪ |
| ۹ | د ۵۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۷۵,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۰,٦٪ | ٪.۰,۹۰ |
| ۱۰ | د ۷۵,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۱۰۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۰,٥٪ | ۰,۸٪ |
| ۱۱ | د ۱۰۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۵۰۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۰,۱۲٪ | ۰,۲٥٪ |
| ۱۲ | د ۵۰۰,۰۰۰,۰۰۱ نه تر ۱,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو پوري | ۰,۰۹٪ | ۰,۱٥٪ |
| ۱۳ | د ۱,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰افغانیو نه پورته | ۰,۰۸٪ | ۰,۱۱٪ |

**د افغانستان دسوداګریزو شخړو حل مرکز د حکمیت د وړاندیز وړ ماده**

هر هغه شخړه چې د دې یا د دې قرارداد د اعتبار، موجودیت، اجرا، تفسیر او فسخ پورې اړه ولری د افغانستان دسوداګریزو شخړو حل مرکز کې د حکمیت له لارې د یاد شوی مرکز د حکمیت قواعدو پر بنسټ چی د دې مادې سره سم منل شوي حل کیږی.

د حکمیت حقوقی ځای باید [ښار یا هیواد] وي.

د حکمانو شمیر باید [یو یا درې] اشخاص وي.

د حکمیت په څیړنه کې د ګټې اخستنې وړ ژبه باید [.....] وي.

AFGHANISTAN CENTER FOR COMMERCIAL DISPUTE RESOLUTION

د افغانستان د سوداګریزو شخړو حل مرکز

مرکز حل منازعات تجارتی افغانستان